# النور

**مدنی سورة دی ۶۴ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

سُورَةٌ أَنزَلۡنَٰهَا وَفَرَضۡنَٰهَا وَأَنزَلۡنَا فِيهَآ ءَايَٰتِۭ بَيِّنَٰتٖ لَّعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ﴿١﴾

**دا سورة( چې پکې مندرج مهم احکام، حدود او اصلاحات ټول ) واجب التنفیذ دی، مونږ نازل کړی او په هغه کې مو داسې روښانه آیاتونه نازل کړی چې تاسو ترې باید پند او عبرت واخلئ( نصایحو ته یې پخپلو زړونو کې ځای ورکړئ او پخپل ژوند کې یې د تطبیق لپاره خاصه پاملرنه وکړئ).**

ٱلزَّانِيَةُ وَٱلزَّانِي فَٱجۡلِدُواْ كُلَّ وَٰحِدٖ مِّنۡهُمَا مِاْئَةَ جَلۡدَةٖۖ وَلَا تَأۡخُذۡكُم بِهِمَا رَأۡفَةٞ فِي دِينِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۖ وَلۡيَشۡهَدۡ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٞ مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٢﴾

**( ای قاضیانو او حاکمانو!) زنا کاره ښځه او زناکار سړی( چې آزاد، عاقل، بالغ او مجرد وی او د زنا ارتکاب یې په اقرار او شهادت ثابت وی) سل سل درې ووهئ، او که په الله تعالی او د آخرت د ورځې په رښتیا ایمان لرئ، نو په هغوی باندې د الهی احکامو په تطبیق کې خواخوږی او مهربانی مه کوئ( او مه د مجرم له ویرې د حکم له تطبیق نه لاس اخلئ) او باید د مؤمنانو یوه ډله د دې سزا د تطبیق په وخت کې ګواهان وی.**

ٱلزَّانِي لَا يَنكِحُ إِلَّا زَانِيَةً أَوۡ مُشۡرِكَةٗ وَٱلزَّانِيَةُ لَا يَنكِحُهَآ إِلَّا زَانٍ أَوۡ مُشۡرِكٞۚ وَحُرِّمَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٣﴾

**زنا کار سړی یوازې له زناکارې یا مشرکې ښځې سره نکاح کوی او زناکاره ښځه هم یوازې له زناکار او مشرک سړی سره نکاح کوی او له دغه ډول ( زانیانو) سره نکاح په( پاکو او عفیفو) مؤمنانو باندې حرامه ده.**

وَٱلَّذِينَ يَرۡمُونَ ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ ثُمَّ لَمۡ يَأۡتُواْ بِأَرۡبَعَةِ شُهَدَآءَ فَٱجۡلِدُوهُمۡ ثَمَٰنِينَ جَلۡدَةٗ
وَلَا تَقۡبَلُواْ لَهُمۡ شَهَٰدَةً أَبَدٗاۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ٤

او څوک چې په عفیفو او پاک لمنو ښځو باندې د زنا تور تړی او د خپلې ادعا د اثبات لپاره، څلور ګواهان( د قاضی یا حاکم په وړاندې) حاضر نه کړی شی، اتیا درې یې ووهئ، او د تل لپاره یې د ګواهئ ورکولو له حق نه محروم کړئ، ځکه دوی فاسقان دی( او د تل لپاره مردودالشهادة ګڼل کیږی).

إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ وَأَصۡلَحُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٥

خو که له خپل دغه عمل نه توبه وباسی (او خپل فاسد نیت او عمل) اصلاح کړی نو بی له شکه الله تعالی( د هغوی په باب) ببنونکی او مهربان دی.

وَٱلَّذِينَ يَرۡمُونَ أَزۡوَٰجَهُمۡ وَلَمۡ يَكُن لَّهُمۡ شُهَدَآءُ إِلَّآ أَنفُسُهُمۡ فَشَهَٰدَةُ أَحَدِهِمۡ أَرۡبَعُ
شَهَٰدَٰتِۭ بِٱللَّهِ إِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ٦

او هغه کسان چې پخپلو میرمنو باندې د بدلمنئ تور پورې کوی او له خپل ځان نه غیر، بل ګواه ونه لری، نو( د څلورو ګواهانو په ځای د ده خپل څلور ځله حلفیه شهادت د منلو وړ دی او باید د خپل تور د اثبات لپاره) څلور ځله داسې قسم یاد کړی: په الله قسم چې( دی په دې قضیه کې) کاملاً رښتیا وایی.

وَٱلۡخَٰمِسَةُ أَنَّ لَعۡنَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡهِ إِن كَانَ مِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ٧

او د پنځم ځل لپاره باید ووایی چې که(  په دې قضیه کې یې) دروغ ویلی وی نو په ده دې د الله تعالی لعنت وی.

وَيَدۡرَؤُاْ عَنۡهَا ٱلۡعَذَابَ أَن تَشۡهَدَ أَرۡبَعَ شَهَٰدَٰتِۭ بِٱللَّهِ إِنَّهُۥ لَمِنَ
ٱلۡكَٰذِبِينَ ٨

او له تورنې ښځې لپاره، له سزا څخه د خلاصون طریقه دا ده چې څلور ځله به په حلفیه توګه ووایی: په الله تعالی قسم چې دغه سړی دروغجن دی.

وَٱلۡخَٰمِسَةَ أَنَّ غَضَبَ ٱللَّهِ عَلَيۡهَآ إِن كَانَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ٩

او پنځم ځل  دې ووایی: که دغه سړی پخپله ادعا کې رښتینی وی، نو دا ښځه دې د الله تعالی د غضب وړ وګرځی.

وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ وَأَنَّ ٱللَّهَ تَوَّابٌ حَكِيمٌ ﴿١٠﴾

او که په تاسو، د الله تعالی فضل او رحمت نه وی( او د خپلو بندګانو توبه يې نه قبلولی نو تاسو به له سختې سزا سره مخامخ شوی وی) او بې له شکه چې الله تعالی توبه قبلوونکی او حکيم ذات دی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ جَآءُو بِٱلْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِّنكُمْ ۚ لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَّكُم ۖ بَلْ هُوَ خَيْرٌ
لَّكُمْ ۚ لِكُلِّ ٱمْرِئٍ مِّنْهُم مَّا ٱكْتَسَبَ مِنَ ٱلْإِثْمِ ۚ وَٱلَّذِى تَوَلَّىٰ كِبْرَهُۥ مِنْهُمْ لَهُۥ
عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١١﴾

هغو کسانو چې په( ام المؤمنين بی بی عايشه رضی الله عنها) باندې يې لوی تومت وتاړه، ستاسو ترمنځ( يوه متحده او هم فکره) ډله وه. تاسو دغه تومت دځان لپاره شر، مه ګڼئ، بلکه ستاسو لپاره خير دی، د هغوی د هر يوه تن لپاره د کړې ګناه سره مناسبه سزا ده، او( رأس المنافقين عبدالله ابن ابی) چې د دغه لوی تومت اور ته يې ډير ببوزی وهلی( په دنيا کې د رسوايئ او په آخرت کې) د لوی عذاب مستحق دی.

لَّوْلَآ إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ ٱلْمُؤْمِنُونَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتُ بِأَنفُسِهِمْ خَيْرًا وَقَالُوا۟ هَٰذَآ
إِفْكٌ مُّبِينٌ ﴿١٢﴾

کله چې مو د دغه لوی تومت اوازه واوريده، مؤمنو نارينه و او مؤمنو ښځو، ولې پخپلو منځو کې( په مؤمنانو خويندو او ورونو) باندې نيک ګومان ونه کړ، او ولې يې و نه ويل چې دا ښکاره تومت دی (چې د منافقانو له خوا تړل شوی او هدف يې د مؤمنانو ترمنځ د فتنې، فساد او بدبينی اور بلول دی).

لَّوْلَا جَآءُو عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ ۚ فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا۟ بِٱلشُّهَدَآءِ فَأُو۟لَٰٓئِكَ
عِندَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلْكَٰذِبُونَ ﴿١٣﴾

( تومت تړونکو)ولې د خپل دغه بهتان د اثبات لپاره څلور تنه ګواهان وړاندې نه کړل، او چې ګواهان نشی وړاندې کولی نو د الله تعالی په نزد، دوی پخپله دروغجنان دی.

وَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْـَٔاخِرَةِ لَمَسَّكُمْ فِى مَآ
أَفَضْتُمْ فِيهِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٤﴾

**او که په دنیا او آخرت کې په تاسو باندې د الله تعالی فضل او رحمت نه وی، نو د دغه لوی تومت په جرم به چې تاسو پکې ملوث وۍ، په لوی عذاب محکوم شوی وی.**

إِذْ تَلَقَّوْنَهُۥ بِأَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُولُونَ بِأَفْوَاهِكُم مَّا لَيْسَ لَكُم بِهِۦ عِلْمٌ
وَتَحْسَبُونَهُۥ هَيِّنًا وَهُوَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمٌ ﴿١٥﴾

**تاسو(د دغه لوی تومت اوازه) خوله په خوله یو بل ته رسوله او هغه څه مو ویل چې تاسوورباندې هیڅ علم نه درلود، او خپل دغه( وړل راوړل) مو یو عادی او کوچنی کار ګڼه خو د الله تعالی په نزد ډیره لویه( ګناه) وه.**

وَلَوْلَآ إِذْ سَمِعْتُمُوهُ قُلْتُم مَّا يَكُونُ لَنَآ أَن نَّتَكَلَّمَ بِهَٰذَا سُبْحَٰنَكَ هَٰذَا
بُهْتَٰنٌ عَظِيمٌ ﴿١٦﴾

**او( د دغه خبر) په اوریدو مو، ولې ونه ویل چې مونږ ته نه ښایی( او هیڅ جواز نشته) چې په دغه خبره خوله خلاصه کړو، سبحان الله دا خو ډیر لوی تومت دی.**

يَعِظُكُمُ ٱللَّهُ أَن تَعُودُوا۟ لِمِثْلِهِۦٓ أَبَدًا إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٧﴾

**الله تعالی تاسو ته نصیحت کوی چې که مؤمنان یاست نو دغسې عمل( د هیچا په حق کې) مه تکراروۍ.**

وَيُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْـَٔايَٰتِ ۚ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٨﴾

**او الله تعالی تاسو ته خپل آیتونه بیانوی او الله تعالی پوه او حکیم ذات دی.**

إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ ٱلْفَٰحِشَةُ فِى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَهُمْ عَذَابٌ
أَلِيمٌ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْـَٔاخِرَةِ ۚ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿١٩﴾

هغه کسان چې غواړي( د دغه لوی تومت په شان) ناوړه اعمال د مؤمنانو ترمنځ خپاره او مروج کړي، په دنيا او آخرت کې ورته دردناک عذاب ليکل شوی، او الله تعالی هغوی ښه پيژني خو تاسو يې نه پيژنۍ.

وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهُۥ وَأَنَّ ٱللَّهَ رَءُوفٞ رَّحِيمٞ ٢٠

او که په تاسو د الله تعالی فضل او مرحمت نه وی( نو سخته سزا به يې درکړې وی) خو بی له شکه چې الله تعالی مهربان او رحم کوونکی ذات دی.

۞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ وَمَن يَتَّبِعۡ خُطُوَٰتِ
ٱلشَّيۡطَٰنِ فَإِنَّهُۥ يَأۡمُرُ بِٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِۚ وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ
وَرَحۡمَتُهُۥ مَا زَكَىٰ مِنكُم مِّنۡ أَحَدٍ أَبَدٗا وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يُزَكِّي مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ
عَلِيمٞ ٢١

ای مؤمنانو! د شيطان د اوامرو پيروی مه کوی، او څوک چې د شيطان په پل پسې روان وی، نو شيطان خو يې ناوړو او بدو کارونو ته هڅوی، او که په تاسو د الله تعالی فضل او مرحمت نه وی، ستاسو يو تن به هم له گناهونو پاک شوی نه وی، خو الله تعالی چې هر چا ته اراده وکړي، له گناهونو يې پاک ساتي، او الله تعالی اوريدونکی او پوه ذات دی .

وَلَا يَأۡتَلِ أُوْلُواْ ٱلۡفَضۡلِ مِنكُمۡ وَٱلسَّعَةِ أَن يُؤۡتُوٓاْ أُوْلِي ٱلۡقُرۡبَىٰ
وَٱلۡمَسَٰكِينَ وَٱلۡمُهَٰجِرِينَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۖ وَلۡيَعۡفُواْ وَلۡيَصۡفَحُوٓاْۗ أَلَا
تُحِبُّونَ أَن يَغۡفِرَ ٱللَّهُ لَكُمۡۗ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ٢٢

او ستاسو مالدار او شتمن خلک دې، داسې قسم نه يادوی چې خپلو خپلوانو، بې وزلو او فی سبيل الله مهاجرينو ته به خيرات او صدقات نه ورکوی( او هغه بدی چې د دغو کسانو له لاسه ورته رسيدلې، بايد ورته وبښي او انتقام دې ترې نه اخلی). آيا دا مو خوښه نه ده چې الله تاسو ته ښښنه وکړي؟( که مو خوښه وی نو تاسو هم نورو ته ښښنه وکړئ) بيشکه چې الله تعالی ډير زيات ښښونکی او مهربان ذات دی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَرۡمُونَ ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ ٱلۡغَٰفِلَٰتِ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ لُعِنُواْ فِي ٱلدُّنۡيَا
وَٱلۡأٓخِرَةِ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ٢٣

**هغه کسان چې په پاک لمنو ناخبرو مؤمنو ښځو د بدلمنۍ تور پورې کوی، په دنیا او آخرت کې د لعنت وړ دی، او ډېر لوی عذاب ورته لیکل شوی دی.**

يَوۡمَ تَشۡهَدُ عَلَيۡهِمۡ أَلۡسِنَتُهُمۡ وَأَيۡدِيهِمۡ وَأَرۡجُلُهُم بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٢٤

**هغه ورځ چې په کړو وړو به یې، د دوی خپلې ژبې، لاسونه او پښې ګواهی ورکړي.**

يَوۡمَئِذٖ يُوَفِّيهِمُ ٱللَّهُ دِينَهُمُ ٱلۡحَقَّ وَيَعۡلَمُونَ أَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ ٱلۡمُبِينُ ٢٥

**په همدغه ورځ به الله تعالی هغوی ته کامله سزا ورکړي او دوی به پوه شي چې د الله تعالی ربوبیت یو څرګند حقیقت دی.**

ٱلۡخَبِيثَٰتُ لِلۡخَبِيثِينَ وَٱلۡخَبِيثُونَ لِلۡخَبِيثَٰتِۖ وَٱلطَّيِّبَٰتُ لِلطَّيِّبِينَ
وَٱلطَّيِّبُونَ لِلطَّيِّبَٰتِۚ أُوْلَٰٓئِكَ مُبَرَّءُونَ مِمَّا يَقُولُونَۖ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ
وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ ٢٦

**ناپاکې ښځې د ناپاکو سړو لپاره، او ناپاک سړي له ناپاکو ښځو لپاره دي، او پاکې او عفیفې ښځې د پاکو نارینه و لپاره او پاک نارینه د پاکو او عفیفو ښځو سره وړ دي( نو د پاک او معصوم پیغمبر میرمنې«امهات المؤمنین» هیڅکله هم بدکاره کیدی نشي بلکه الله تعالی یې حفاظت کوی او) د تومت تړونکو له ناروا ادعاو نه کاملاً پاکې او مبرا دي. ( دغو ټولو عفیفو او پاکو نارینه و او ښځو ته د الله تعالی له لوري) مغفرت او نیکه روزی ټاکل شوې ده( همدا شان ناپاکې خبرې، دروغ او تومت د ناپاکو او مفسدو کسانو سره مناسب او پاکې خبرې او نیک ګومانونه د پاکو او شریفو مؤمنو انسانانو لوی صفت دی).**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَدۡخُلُواْ بُيُوتًا غَيۡرَ بُيُوتِكُمۡ حَتَّىٰ
تَسۡتَأۡنِسُواْ وَتُسَلِّمُواْ عَلَىٰٓ أَهۡلِهَاۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ لَعَلَّكُمۡ
تَذَكَّرُونَ ٢٧

**ای مؤمنانو! له خپلو کورونو نه غیر، د بل چا کور ته، مه ننوزئ، تر هغه چې اجازه واخلئ او د کور په اوسیدونکو سلام واچوئ. د دغو( اخلاقی مقرراتو او اصولو مراعات) ستاسو لپاره ډیر غوره او بهتر کار دی، ښایی چې پند او عبرت واخلئ.**

فَإِن لَّمۡ تَجِدُواْ فِيهَآ أَحَدٗا فَلَا تَدۡخُلُوهَا حَتَّىٰ يُؤۡذَنَ لَكُمۡۖ وَإِن قِيلَ
لَكُمُ ٱرۡجِعُواْ فَٱرۡجِعُواْۖ هُوَ أَزۡكَىٰ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ عَلِيمٞ ٢٨

**( درې ځل ووایئ:السلام علیکم) خو که هلته څوک ونه مومئ( او ځواب در نه کړی شی) نو بې اجازې مه ورننوزئ، او که درته د بیرته تللو وویل شی، هم ترې پخپله لار لاړ شئ، دغه کار ستاسو لپاره ډیر پاک او غوره دی، او الله تعالی ستاسو په ټولو کړنو ډیر ښه خبر دی( او حساب کتاب به درسره کوی) .**

لَّيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ أَن تَدۡخُلُواْ بُيُوتًا غَيۡرَ مَسۡكُونَةٖ فِيهَا مَتَٰعٞ لَّكُمۡۚ
وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تُبۡدُونَ وَمَا تَكۡتُمُونَ ٢٩

**خو هغو ودانیو( سرایونو، دولتی او تجارتی مرکزونو) ته ورننوتلی شئ چې مال متاع او د ګټې وټې روزګار یا د ورتګ اړتیا پکې لرئ، او الله تعالی ستاسو په ټولو پټو او ښکاره اعمالو ډیر ښه پوهیږی.**

قُل لِّلۡمُؤۡمِنِينَ يَغُضُّواْ مِنۡ أَبۡصَٰرِهِمۡ وَيَحۡفَظُواْ فُرُوجَهُمۡۚ ذَٰلِكَ
أَزۡكَىٰ لَهُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا يَصۡنَعُونَ ٣٠

**( ای پیغمبره!) مؤمنو نارینه و ته ووایه( چې له نامحرمو ښځو سره د مخامخ کیدو په وخت کې) خپل نظرونه ټیټ کړی( او هغوی ته ونه ګوری) او خپلې لمنې هم( له فحشاو نه) پاکې وساتی، (دغه اغماض او حفظ) د هغوی لپاره ډیر پاکیزه (او د نفس د تزکیی لپاره) ډیر ګټور دی او الله تعالی د هر چا په کړنو( د سترګو په غلا او خیانت او د زړونو په پټو خبرو او نیتونو) ډیر ښه خبریږی( بده کتنه د فحشا او بد اخلاقئ لومړی پړاو دی، ځکه خو الله تعالی د بد کارئ او بې حیایئ د مخنیوی لپاره د سترګو د کنترول سپارښتنه کوی، او مسلمان نارینه او ښځو ته امر کوی چې یو بل ته له قصدی او عمدی بد کتلو نه ځانونه وساتئ او هم خپل شهوانی احساسات اداره کړئ).**

وَقُل لِّلْمُؤْمِنَٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَٰرِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا
يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا ۖ وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ
جُيُوبِهِنَّ ۖ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ ءَابَآئِهِنَّ
أَوْ ءَابَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَآئِهِنَّ أَوْ أَبْنَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ
إِخْوَٰنِهِنَّ أَوْ بَنِىٓ إِخْوَٰنِهِنَّ أَوْ بَنِىٓ أَخَوَٰتِهِنَّ أَوْ نِسَآئِهِنَّ أَوْ مَا
مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُنَّ أَوِ ٱلتَّٰبِعِينَ غَيْرِ أُو۟لِى ٱلْإِرْبَةِ مِنَ ٱلرِّجَالِ أَوِ
ٱلطِّفْلِ ٱلَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا۟ عَلَىٰ عَوْرَٰتِ ٱلنِّسَآءِ ۖ وَلَا يَضْرِبْنَ
بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ ۚ وَتُوبُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا
أَيُّهَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٣١﴾

**او ایماندارو ښځو ته ووایه چې( له حرامو کارونو له لیدلو نه ډډه وکړی او د نا محرمو نارینه و سره د مخامخ کیدو سره سم دې)خپلې سترګې پټې کړی، او خپلې لمنې دې هم له فحشاو او محرماتو نه پاکې وساتی، او ( له لاسونو مخ او پښو نه غیر چې په عورت کې شامل نه دی)،خپل ډول ډال( ښکلی کالی او ګاڼه او زیورات نا محرمو کسانو ته) و نه ځلوی،او خپل پوړونی دې پخپلو ګریوانونو راوځړوی( چې سینې یې ښکاره**

**نشی).خو که خپل ډول ډال او سینګار خپلو میړونو، پلرونو،سخرانو، ځامنو( او لمسیو) بنزیو، وروڼو، وریرونو، خورینو، خپلو( نیک عملو همفکرو او هم مسلکو) ښځو، غلامانو، له شهوانی احساساتو نه پاکو خدمتکارانو او ځوانی ته نارسیدلو هلکانو ته څرګند کړی، نو کومه ګناه وربانديې نشته. دغه راز( مؤمني ښځې) باید په تلو راتلو کې خپلې پښې( بوټان) په داسې شان په ځمکه و نه ټکوی چې د خلکو پاملرنه جلب کړی. او ای مؤمنانو ټول خپل رب ته توبه وکړی ترڅو مو بریالیتوب او نیکمرغی په برخه شی.**

وَأَنكِحُوا۟ ٱلْأَيَـٰمَىٰ مِنكُمْ وَٱلصَّـٰلِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَآئِكُمْ ۚ إِن يَكُونُوا۟
فُقَرَآءَ يُغْنِهِمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٣٢﴾

**خپلو مجردو( هلکانو او پیغلو) او وینزو او مرئیانو ته چې نیکان وی( او د کورنی ژوند چارې سمبالولی شی په شرعی) نکاح ودونه وکړی، که بې وزله او تش لاسی وی، نو الله تعالی به یې پخپلې مهربانی سره شتمن کړی. الله تعالی( د ژوند د اسانتیاو) پراخوونکی او (د خپلو بندګانو په حالت) پوه ذات دی.**

وَلْيَسْتَعْفِفِ ٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّىٰ يُغْنِيَهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ ۗ وَٱلَّذِينَ
يَبْتَغُونَ ٱلْكِتَـٰبَ مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَـٰنُكُمْ فَكَاتِبُوهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ
خَيْرًا ۖ وَءَاتُوهُم مِّن مَّالِ ٱللَّهِ ٱلَّذِىٓ ءَاتَىٰكُمْ ۚ وَلَا تُكْرِهُوا۟ فَتَيَـٰتِكُمْ
عَلَى ٱلْبِغَآءِ إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا لِّتَبْتَغُوا۟ عَرَضَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۚ وَمَن يُكْرِههُّنَّ
فَإِنَّ ٱللَّهَ مِنۢ بَعْدِ إِكْرَٰهِهِنَّ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٣﴾

**او څوک چې د واده کولو وس او توان نه لری، نو په پاک لمنی او عفت سره دې ژوند وکړی، تر هغه چې الله تعالی یې شتمن کړی( او د شرعی واده سهولتونه ورته برابر کړی)، او هغه مرئیان چې غواړی( د پیسو په بدل کې د خپلې آزادی) غوښتنه وکړی، نو که تاسو په هغوی کې لازم استعداد او لیاقت وینی، تړون ورسره ولیکې، او له کوم مال او شتمنی نه چې الله پاک تاسو ته درکړی، هغوی ته ترې هم برخه ورکړی، او هغه وینزې مو چې غواړی په پاک لمنی او عفت کې ژوند وکړی، د دنیوی ګټو لپاره یې، فحشاو او بدلمنی ته مه**

هڅوي، او څوک چې یې په جبر سره فحشاو ته مجبورې کړي، نو الله تعالی وربانديې د زور او جبر( د عذر له امله) ښښونکی او مهربان دی.

وَلَقَدۡ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكُمۡ ءَايَٰتٖ مُّبَيِّنَٰتٖ وَمَثَلٗا مِّنَ ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ مِن قَبۡلِكُمۡ وَمَوۡعِظَةٗ لِّلۡمُتَّقِينَ ٣٤

او مونږ خپل روښانه آیتونه او د پخوانیو امتونو د ژوند داستانونه او مثالونه، او د پرهیزګارانو لپاره موعظې او نصیحتونه( په تفصیل سره) تاسو ته نازل کړي دي.

۞ٱللَّهُ نُورُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ مَثَلُ نُورِهِۦ كَمِشۡكَوٰةٖ فِيهَا مِصۡبَاحٌۖ ٱلۡمِصۡبَاحُ فِي زُجَاجَةٍۖ ٱلزُّجَاجَةُ كَأَنَّهَا كَوۡكَبٞ دُرِّيّٞ يُوقَدُ مِن شَجَرَةٖ مُّبَٰرَكَةٖ زَيۡتُونَةٖ لَّا شَرۡقِيَّةٖ وَلَا غَرۡبِيَّةٖ يَكَادُ زَيۡتُهَا يُضِيٓءُ وَلَوۡ لَمۡ تَمۡسَسۡهُ نَارٞۚ نُّورٌ عَلَىٰ نُورٖۚ يَهۡدِي ٱللَّهُ لِنُورِهِۦ مَن يَشَآءُۚ وَيَضۡرِبُ ٱللَّهُ ٱلۡأَمۡثَٰلَ لِلنَّاسِۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ٣٥

الله تعالی د آسمانونو او ځمکې نور دی( چې په حسی او معنوی لحاظ ټولو کایناتو،او د پیغمبر او مؤمنانو زړونو ته هدایت او رڼا ورکوي.په کائناتو او د رسول او مؤمنانو په زړونو کې) د هغه د نور مثال، د هغه لامپ په شان دی، چې په یوه تاخچه کې، په داسې یوه شیشه یی قندیل کې ایښی وی، چې د یوه روښانه ستوري په شان ځلیږي. او لامپ د زیتون د یوې داسې مبارکې او ګټورې ونې په تیلو رڼا کیږي چې نه ختیځ اړخ ته مایله ده او نه لویدیځ ته او تیل یې دومره صاف او شفاف وي چې بې له اوره هم خپله روښنایی هره خوا ځلوي .
همدا د الله تعالی د نازل کړي شویو آیتونو او دلایلو مثال دی چې یو په بل پسې راغلی او د نور علی نور حیثیت لري. هر چاته چې الله تعالی( د خیر)اراده وکړي، د خپل نور په لوري یې هڅوي. الله تعالی د خلکو د پوهونې لپاره دا ډول مثالونه بیانوی او الله تعالی په ټولو چارو ډیر ښه خبر دی.( په دې تمثیل کې د لامپ نه مقصد د الله تعالی ذات او نور دی، او کائنات او د رسول او مؤمنانو زړونه له تاخچې سره تشبیه شوې دی. د قندیل نه مقصد هغه نوری پرده ده چې د نور د شدت او شفافیت له امله یې د الله تعالی لیدل، د مخلوق د

کمزورو سترګو لپاره ناممکن کړی دی. نو د الله تعالی ذات نور دی، کتاب یې نور دی، رسول یې په صفاتو کې نور دی او د همدغو دواړو په وسیله د انسانی ژوند تیاره ګوټونو ته د هدایت نور او روښنایی وررسوی).

فِي بُيُوتٍ أَذِنَ ٱللَّهُ أَن تُرۡفَعَ وَيُذۡكَرَ فِيهَا ٱسۡمُهُۥ يُسَبِّحُ لَهُۥ فِيهَا بِٱلۡغُدُوِّ وَٱلۡأٓصَالِ ﴿٣٦﴾

( د دغه الهی نور په لوری هدایت کړی شوی نیکان او صالحان د مؤمنانو) په هغو کورونو( او جوماتونو) کې لیدل کیږی چې الله تعالی یې (د اخلاقی شان او عظمت) د لوړولو اجازه ورکړی، او سهار ماښام پکې د( الله تعالی) تسبیحات او ذکر روان دی.

رِجَالٞ لَّا تُلۡهِيهِمۡ تِجَٰرَةٞ وَلَا بَيۡعٌ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَإِقَامِ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءِ ٱلزَّكَوٰةِ يَخَافُونَ يَوۡمٗا تَتَقَلَّبُ فِيهِ ٱلۡقُلُوبُ وَٱلۡأَبۡصَٰرُ ﴿٣٧﴾

( د الله تعالی تسبیح ویونکی او ذاکرین) هغه کسان دی چې تجارت او راکړه ورکړه( او د دنیوی ژوند مصروفیات) یې، نه د الله تعالی له یادو غافلوی او نه یې د لمانځه له اقامت او د زکات له اداء کولو څخه بې پروا کولی شی.( بلکه د خپلو دنیوی مسئولیتونو د سرته رسولو سره سره)له هغې ورځې څخه تل په ویره کې دی چې زړونه به پکې مضطرب، او سترګې به وارخطا او بې واره( هره خوا د مرستې په لور) اوړی را اوړی.

لِيَجۡزِيَهُمُ ٱللَّهُ أَحۡسَنَ مَا عَمِلُواْ وَيَزِيدَهُم مِّن فَضۡلِهِۦۗ وَٱللَّهُ يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٖ ﴿٣٨﴾

( دوی دغه نیک عملونه د دې لپاره کوی) ترڅو الله تعالی ورته د هغو په بدل کې ښه اجر ورکړی او پخپل فضل او لوروینه یې سرلوړی کړی، او الله تعالی چې هر چاته اراده وکړی، بې حسابه روزی ورکوی.

وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَعۡمَٰلُهُمۡ كَسَرَابِۭ بِقِيعَةٖ يَحۡسَبُهُ ٱلظَّمۡـَٔانُ مَآءً حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَهُۥ لَمۡ يَجِدۡهُ شَيۡـٔٗا وَوَجَدَ ٱللَّهَ عِندَهُۥ فَوَفَّىٰهُ حِسَابَهُۥۗ وَٱللَّهُ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ﴿٣٩﴾

خو د کافرانو ټول اعمال( خیریه چارې او اختراعات) به د لویې بیدیا هغه سراب( ښورې) ته ورته وی، چې کوم تندې وهلی ورباندې د اوبو گومان کوی، خو کله چې (په منډو منډو) هلته ورسی، څاڅکی اوبه هم نه وی، بلکه( دغو کافرانو ته به د مکافات په ځای) الله تعالی په سر ولاړ وی، چې په یوه چټک سیستم به ورسره د ده د ټولو اعمالو حساب کتاب وکړی. بیشکه چې الله تعالی سریع الحساب ذات دی.

أَوۡ كَظُلُمَٰتٖ فِي بَحۡرٖ لُّجِّيّٖ يَغۡشَىٰهُ مَوۡجٞ مِّن فَوۡقِهِۦ مَوۡجٞ مِّن فَوۡقِهِۦ
سَحَابٞۚ ظُلُمَٰتُۢ بَعۡضُهَا فَوۡقَ بَعۡضٍ إِذَآ أَخۡرَجَ يَدَهُۥ لَمۡ يَكَدۡ يَرَىٰهَاۗ وَمَن
لَّمۡ يَجۡعَلِ ٱللَّهُ لَهُۥ نُورٗا فَمَا لَهُۥ مِن نُّورٍ ٤٠

یا د دوی د اعمالو مثال د ژور بحر هغو تیارو ته ورته دی چې یوه څپه پرې خوره شوې، او د هغې څپې له پاسه بله څپه، او بیا ورباندې توري وریځې را خپرې وی،یعنې څو تیارې ورباندې سر په سر داسې مسلطې وی. چې خپل لاس هم نشی لیدی. حقه خبره دا ده چا ته چې الله پاک ( د هدایت) نور ورنه کړی( په کامله گمراهۍ کې به لاس پېښې وهی) خو د روښنایی څرک به هم په سترگو و نه وینی.

أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱلطَّيۡرُ صَٰٓفَّٰتٖۖ كُلّٞ
قَدۡ عَلِمَ صَلَاتَهُۥ وَتَسۡبِيحَهُۥۗ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِمَا يَفۡعَلُونَ ٤١

آیا نه پوهیږې چې د آسمانونو او ځمکې ټول موجودات او د خورو ورو وزرونو لرونکی مارغان، د الله تعالی ثنا او تسبیح وایی؟ بې له شکه هغوی هر یو پخپل لمونځ( عبادت) او تسبیحاتو پوهیږی او الله تعالی د هغوی په ټولو اعمالو پوه ذات دی.

وَلِلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَإِلَى ٱللَّهِ ٱلۡمَصِيرُ ٤٢

او د آسمانونو او ځمکې مالکیت له الله تعالی سره دی او د هر چا د ورتگ وروستۍ مرجع هم بالاخره د الله تعالی حضور دی.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُزْجِى سَحَابًا ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهُۥ ثُمَّ يَجْعَلُهُۥ رُكَامًا فَتَرَى ٱلْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَٰلِهِۦ وَيُنَزِّلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن جِبَالٍ فِيهَا مِنۢ بَرَدٍ فَيُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ وَيَصْرِفُهُۥ عَن مَّن يَشَآءُ ۖ يَكَادُ سَنَا بَرْقِهِۦ يَذْهَبُ بِٱلْأَبْصَٰرِ ﴿٤٣﴾

آیا نه وینې چې الله تعالی، وریځې ورو ورو، روانوی او بیا د هغو بیلا بیلې ټوټې سره یو ځای کوی، او د ټولو په راغونډولو سره ترې یوه درنه وریځ جوړوی چې له منځه یې د باران څاڅکی راووری. او الله تعالی دی چې د وریځو له یخو غرونو څخه چې پورته ولاړ دی، ږلی وروی او چاته چې یې اراده وشی، د همدې ږلی په وربښت ورته زیان اړوی، او چاته چې وغواړی (له زیانه یې ژغوری) او په څنګ یې ترې ساتی.( د تالندې او برښنا ځلا دومره زیاته وی) چې سترګې بریښوی.

يُقَلِّبُ ٱللَّهُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّأُو۟لِى ٱلْأَبْصَٰرِ ﴿٤٤﴾

الله تعالی هغه ذات دی چې شپه او ورځ سره بدلوی رابدلوی،یقیناً چې په دغه ادلون بدلون کې د بصیرت د خاوندانو لپاره د عبرت درس پروت دی.

وَٱللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٍ مِّن مَّآءٍ ۖ فَمِنْهُم مَّن يَمْشِى عَلَىٰ بَطْنِهِۦ وَمِنْهُم مَّن يَمْشِى عَلَىٰ رِجْلَيْنِ وَمِنْهُم مَّن يَمْشِى عَلَىٰٓ أَرْبَعٍ ۚ يَخْلُقُ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٤٥﴾

او الله تعالی هر ژوی له اوبو پیدا کړی، چې ځینې یې( په تللو کې) په خیټو ښویږی، ځینې یې په دوو پښو او ځینې یې په څلورو (پښو) لاره کوی. څه چې الله پاک وغواړی له نشت نه یې هست کوی، او الله تعالی په هر کار برلاسی او د کامل قدرت لرونکی دی.

لَّقَدۡ أَنزَلۡنَآ ءَايَٰتٖ مُّبَيِّنَٰتٖۚ وَٱللَّهُ يَهۡدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ
مُّسۡتَقِيمٖ ٤٦

بیشکه چې مونږ روښانه آیتونه نازلوو، او هر چا ته چې الله تعالی اراده وکړی، په مستقیمه لاره یې روانوی.

وَيَقُولُونَ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَبِٱلرَّسُولِ وَأَطَعۡنَا ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٞ مِّنۡهُم مِّنۢ
بَعۡدِ ذَٰلِكَۚ وَمَآ أُوْلَٰٓئِكَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٤٧

او( منافقین) وایی: په الله تعالی او دې پیغمبر مو ایمان راوړی او اطاعت یې کوو، خو وروسته یې بیا یوه ډله( پخپل دغه اقرار ) پښې ړدی او دوی هیڅکله مؤمنین نه دی.

وَإِذَا دُعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَهُمۡ إِذَا فَرِيقٞ مِّنۡهُم مُّعۡرِضُونَ ٤٨

او کله چې دوی د خپلمنځی اختلافاتو د حل لپاره، د الله او رسول قضاوت او فیصلې ته راوبلل شی، ناڅاپه یې یوه ډله د اعتراض په توګه مخ وګرځوی.

وَإِن يَكُن لَّهُمُ ٱلۡحَقُّ يَأۡتُوٓاْ إِلَيۡهِ مُذۡعِنِينَ ٤٩

خو که( وپوهیږی چې) فیصله د دوی په حق کې کیږی نو په تابعداری ورته حاضریږی.

أَفِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ أَمِ ٱرۡتَابُوٓاْ أَمۡ يَخَافُونَ أَن يَحِيفَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ وَرَسُولُهُۥۚ بَلۡ
أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٥٠

آیا د دوی په زړونو کې (د نفاق ) ناروغی ده او( که د الله تعالی د دین په باب) شکونه کوی، او که له دې ویریږی چې الله او رسول به یې( په فیصله کې)  په دوی ظلم وکړی؟ ( هیڅکله  نه ) بلکه دوی پخپله ظالمان او تیری کوونکی دی.

إِنَّمَا كَانَ قَوۡلَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ إِذَا دُعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَهُمۡ أَن يَقُولُواْ
سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٥١

خو د مؤمنینو ځانګړتیا دا ده چې که د مسایلو د حل لپاره د الله او رسول د قضاوت په لور راوبلل شی نو(په رضا او رغبت سره یې) خبره دا وی چې:(د الله او رسول فرمان) اورو او اطاعت یې کوو.

وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَخْشَ ٱللَّهَ وَيَتَّقْهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَآئِزُونَ ﴿٥٢﴾

او څوک چې د الله تعالی او د هغه د رسول اطاعت وکړی، له الله تعالی نه وویریږی او( له قهر او غضب نه یې) ځان وساتی نو دغه کسان بې له شکه بریمن او نیکمرغه دی.

۞ وَأَقْسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَٰنِهِمْ لَئِنْ أَمَرْتَهُمْ لَيَخْرُجُنَّ ۖ قُل لَّا تُقْسِمُواْ ۖ طَاعَةٌ مَّعْرُوفَةٌ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿٥٣﴾

او( منافقین) په الله تعالی باندې تاکیدی سوګندونه یادوی چې که ( د محمد رسول الله له خوا ورته جهاد ته د وتلو) قوماندہ ورکړی شی نو بې له ځنډه به( د جهاد ډګر ته) ووځی. ورته ووایه: سوګندونه مه یادوئ، غوره اطاعت او پیروی( په تاسو فرض ده، نه قسمونه). او بیشکه چې الله تعالی ستاسو په ټولو کړو وړو ډیر ښه خبر دی.

قُلْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ ۖ فَإِن تَوَلَّوْاْ فَإِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُم مَّا حُمِّلْتُمْ ۖ وَإِن تُطِيعُوهُ تَهْتَدُواْ ۚ وَمَا عَلَى ٱلرَّسُولِ إِلَّا ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ ﴿٥٤﴾

ورته ووایه( په ټولو چارو کې) د الله تعالی او( دې) پیغمبر پیروی وکړی، نو که مخ یې وګرځاوه( پیغمبر ته زیان نشی اړولی) ځکه د هغه وظیفه هماغه ده چې ورسپارل شوی، او له تاسو هم له هغو وظایفو پوښتنه کیږی چې وربانديې موظف یاست، او( ورته ووایه) که د پیغمبر اطاعت وکړئ لاره به وموموئ، که نه نو د پیغمبر ذمه واری یوازې( د وحې د پیغام) رسول دی.

وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي
ٱلْأَرْضِ كَمَا ٱسْتَخْلَفَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ
ٱلَّذِي ٱرْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّنۢ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًاۚ يَعْبُدُونَنِي لَا
يُشْرِكُونَ بِي شَيْـًٔاۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلْفَٰسِقُونَ ﴿٥٥﴾

الله تعالی ستاسو له هغو( مؤمنو شخصیتونو) سره چې ایمان یې راوړی، او نیک عملونه کوی، ( او د پیغمبر رښتینی او سربښندونکی پیروان دی) وعده کړې چې دوی ته به( د رسول الله له رحلت نه وروسته) د ځمکې خلافت او اقتدار ورسپاری، لکه څنګه چې یې پخوانی امتونه د یو بل، ځای ناستی کړی وو. او همدا دین به چې یې ورته خوښ کړی، ټینګ او مستحکم کړی، او ویره او ترهه به ورله په سکون او امنیت بدله کړی،خو هغوی دې هم یوازې زما عبادت وکړی او بل هیڅوک او هیڅ شی دې زما سره (په ربوبیت کې) نه شریکوی، او څوک چې وروسته له دې، د دغو ځانګړو( الهی) نعمتونو ناشکری وکړی( په حقیقت کې) لوی فاسقان دی.

وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ
تُرْحَمُونَ ﴿٥٦﴾

او د لمانځه او زکات نظام قایم کړئ او د پیغمبر ( د احکامو او سنتو کامل) اطاعت وکړئ، تر څو ( د الله تعالی ) له رحمت نه برخمن شئ. .

لَا تَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مُعْجِزِينَ فِي ٱلْأَرْضِۚ وَمَأْوَىٰهُمُ ٱلنَّارُۖ
وَلَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿٥٧﴾

دا ګومان مه کوه چې کافران به په ځمکه کې الله ته ماتې ورکړي( او د هغه د قدرت او سلطنت له قلمروه به ووځي)، د دوی ځای جهنم دی چې د ورتلو لپاره تر ټولو بد ځای دی.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لِيَسْتَـْٔذِنكُمُ ٱلَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَـٰنُكُمْ وَٱلَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا۟ ٱلْحُلُمَ مِنكُمْ ثَلَـٰثَ مَرَّٰتٍ ۚ مِّن قَبْلِ صَلَوٰةِ ٱلْفَجْرِ وَحِينَ تَضَعُونَ ثِيَابَكُم مِّنَ ٱلظَّهِيرَةِ وَمِنۢ بَعْدِ صَلَوٰةِ ٱلْعِشَآءِ ۚ ثَلَـٰثُ عَوْرَٰتٍ لَّكُمْ ۚ لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌۢ بَعْدَهُنَّ ۚ طَوَّٰفُونَ عَلَيْكُم بَعْضُكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْـَٔايَـٰتِ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٥٨﴾

ای مؤمنانو! ستاسو مرئیان او ځوانی ته نا رسیدلی هلکان، باید په درې وختونو کې( ستاسو د خوب خونو ته د ننوتلو لپاره) له تاسو اجازه واخلی: د سهار د لمانځه نه وړاندې،د غرمې د استراحت په وخت کې چې تاسو خپل د خوب کالی بدلوی او د ماخستن د لمانځه نه وروسته. دغه درې وختونه ستاسو خصوصی او د ستر وختونه دی. له دغو دریو وختونو نه غیر په نورو وختونو کې د هغوی په راتګ، په تاسو او هغوی کومه ګناه نشته او کولی شئ په عادی ډول تګ راتګ او ناسته ولاړه وکړئ، په دې توګه الله تعالی خپل آیتونه تاسو ته اوروی، او الله تعالی (په ټولو حالاتو) پوه او حکمت لرونکی ذات دی.

وَإِذَا بَلَغَ ٱلْأَطْفَـٰلُ مِنكُمُ ٱلْحُلُمَ فَلْيَسْتَـْٔذِنُوا۟ كَمَا ٱسْتَـْٔذَنَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمْ ءَايَـٰتِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٥٩﴾

او ستاسو اولادونه چې د ځوانی عمر ته ورسی، نو ستاسو شخصی خونو ته د ننوتو په وخت، باید هماغه ډول ستاسو اجازه واخلی، لکه څنګه چې له دوی وړاندې( نورو بالغو کسانو) اجازه اخسته. په دې توګه الله تعالی خپل احکام تاسو ته بیانوی او الله تعالی (په ټولو حالاتو) پوه او حکیم ذات دی.

وَٱلۡقَوَٰعِدُ مِنَ ٱلنِّسَآءِ ٱلَّٰتِي لَا يَرۡجُونَ نِكَاحٗا فَلَيۡسَ عَلَيۡهِنَّ جُنَاحٌ
أَن يَضَعۡنَ ثِيَابَهُنَّ غَيۡرَ مُتَبَرِّجَٰتِۭ بِزِينَةٖۖ وَأَن يَسۡتَعۡفِفۡنَ
خَيۡرٞ لَّهُنَّۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ٦٠

**او هغه زړې ښځې چې د واده کولو شوق او ارزو نه لری، په حجاب اغوستلو مکلفې نه دی، په دې شرط چې خپلې ګانې او ډول ډال به خلکو ته نه ځلوی، خو که بیا هم ځانونه پټ وساتی ورته ډیره غوره ده، او الله تعالی هره خبره اوری او په هرڅه پوه ذات دی.**

لَّيۡسَ عَلَى ٱلۡأَعۡمَىٰ حَرَجٞ وَلَا عَلَى ٱلۡأَعۡرَجِ حَرَجٞ وَلَا عَلَى ٱلۡمَرِيضِ
حَرَجٞ وَلَا عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمۡ أَن تَأۡكُلُواْ مِنۢ بُيُوتِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ
ءَابَآئِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ أُمَّهَٰتِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ إِخۡوَٰنِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ
أَخَوَٰتِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ أَعۡمَٰمِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ عَمَّٰتِكُمۡ أَوۡ
بُيُوتِ أَخۡوَٰلِكُمۡ أَوۡ بُيُوتِ خَٰلَٰتِكُمۡ أَوۡ مَا مَلَكۡتُم
مَّفَاتِحَهُۥٓ أَوۡ صَدِيقِكُمۡۚ لَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ أَن
تَأۡكُلُواْ جَمِيعًا أَوۡ أَشۡتَاتٗاۚ فَإِذَا دَخَلۡتُم بُيُوتٗا فَسَلِّمُواْ عَلَىٰٓ
أَنفُسِكُمۡ تَحِيَّةٗ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِ مُبَٰرَكَةٗ طَيِّبَةٗۚ كَذَٰلِكَ
يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ٦١

په ړوند، ګوډ او ناروغ او تاسو ټولو کومه ګناه نشته که پخپلو کورونو، یا د پلرونو، میندو، ورونړو، خویندو، ترونړو، تروریانو، ماماګانو، خاله ګانو، او یا هغو کورونو کې چې واک یې تاسو ته سپارل شوی، او یا د دوستانو په کورونو کې خواړه وخوری. او که د کورنۍ له نورو غړو سره په ګډه یا جلا جلا ډوډۍ وخورئ هم دربانديې ګناه نشته، نو کله چې دغو کورونو ته ننوزئ په ټولو خپلوانو سلام واچوئ، هغه مبارک او پاک سلام چې الله تعالی غوره کړی دی. په دې توګه الله تعالی تاسو ته خپل آیتونه بیانوی تر څو له پوهې او تعقل نه کار واخلئ.

إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَإِذَا كَانُواْ مَعَهُۥ عَلَىٰٓ أَمۡرٖ
جَامِعٖ لَّمۡ يَذۡهَبُواْ حَتَّىٰ يَسۡتَـٔۡذِنُوهُۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسۡتَـٔۡذِنُونَكَ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ
يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۚ فَإِذَا ٱسۡتَـٔۡذَنُوكَ لِبَعۡضِ شَأۡنِهِمۡ فَأۡذَن
لِّمَن شِئۡتَ مِنۡهُمۡ وَٱسۡتَغۡفِرۡ لَهُمُ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ
رَّحِيمٞ ٦٢

ربښتینی مؤمنان یوازې هغه دی چې په کامله او مخلصانه توګه یې په الله تعالی او پیغمبر ایمان راوړی، (د پیغمبر حکم ته ډیر زر حاضریږی او امر یې په سر سترګو منی) او کله چې په کوم ټولنیز مهم کار( جمعه، اخترونه، جهاد او مشورتی غونډو کې) د پیغمبر سره ملګری وی، نو د هغه بې اجازې ورڅخه پخپل سر هیڅ چیرته نه ځی. بیشکه ځوک چې د تللو لپاره ستا نه اجازه غواړی، په الله او رسول یې ټینګ او پیاوړی ایمان لری، نو کله چې هغوی د خپلو ځینو اړتیاو لپاره له تا اجازه وغواړی، هر یوه ته چې ستا خوښه وی اجازه ورکړه او د الله تعالی نه ورته ښښنه هم وغواړه، ځکه الله تعالی ډیر زیات ښښونکی او مهربان ذات دی.

لَّا تَجۡعَلُواْ دُعَآءَ ٱلرَّسُولِ بَيۡنَكُمۡ كَدُعَآءِ بَعۡضِكُم بَعۡضٗاۚ قَدۡ
يَعۡلَمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ يَتَسَلَّلُونَ مِنكُمۡ لِوَاذٗاۚ فَلۡيَحۡذَرِ ٱلَّذِينَ
يُخَالِفُونَ عَنۡ أَمۡرِهِۦٓ أَن تُصِيبَهُمۡ فِتۡنَةٌ أَوۡ يُصِيبَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ٦٣

د رسول الله د امر په مقابل کې، د عامو خلکو د امر په شان بې اعتنايي مه کوی.( بلکه په لبیک سره ځواب ورکړئ او خدمت ته يې بې له ځنډه حاضر شئ، که نه له ښيرا څخه يې وويرېږئ، ځکه د پيغمبر ښيرا عادی ښيرا نه ده، او په خطاب کولو کې هم د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ادب، عظمت او عزت مراعات وکړئ او په تعظيمی او ادبی القابو يې مخاطب کړئ). الله تعالی په تاسو کې هغه( منافقان) ډير ښه پيژنی چې( د پيغمبر پند او نصيحت ورباندې لکه د ټوپک ډز لګيږی) او يو يو او دوه دوه د يو بل شاته پټيږی، او له مجلسه يې تښتی.( د الله تعالی او رسول الله صلی الله عليه وسلم) له احکامو څخه سرغړوونکی بايد وويريږی، هسې نه چې( د کفر او نفاق له امله په کومه دنيوی) بلا او مصيبت او يا (د آخرت)په دردوونکی عذاب اخته شی.

أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ قَدۡ يَعۡلَمُ مَآ أَنتُمۡ عَلَيۡهِ وَيَوۡمَ يُرۡجَعُونَ إِلَيۡهِ فَيُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُواْۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمُۢ ﴿٦٤﴾

په غور سره واوری، د آسمانونو او ځمکې( کائناتو) ټول موجودات او شتمنی، د الله تعالی د مالکيت او سلطنت په قلمرو کې شامل دی( او که تاسو له رسول الله صلی الله عليه وسلم له مجلسه په پټه ووځئ، نو بايد پوه شئ چې) الله تعالی ستاسو په ټولو حالاتو(اعمالو او ارزوګانو) ډير ښه خبر دی، او کله چې دغه خلک د حساب کتاب لپاره الهی محکمې ته حاضر شی ټوله عملنامه به يې ورته مخې ته ايښود کيږی. او بيشکه چې الله تعالی په ټولو چارو ښه خبردار او عليم ذات دی.

«تمت سورة النور بفضل الله و توفيقه» ====================